انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۶/۱۷

# جنګ د فساد ورور
## او فساد د قانون دښمن دی

د انساني ټولني جوړښت د انسان دبدن د فزیکي جوړښت سره ډیر ورته والی لري. د انسان د بدن هر غړی هم د ځان او هم د نور بدن د ساتنی په منظور ځانګړی وظیفی لری او هر غړی د روغتیا او سلامتیا په صورت کی په دی مکلف دی چی ده ته ورسپارل شوی او ورکړ شوی وظیفه لکه څنګه چی و رته اړتیا ده هماغه ډول تر سره کړی. د بدن هر غړی چی په خپله وظیفه کی پاتی راشی نو د هغه د کار د ناسمي اجراء له امله د بدن نور غړی هم متاثر کیږی او د خپلو وظیفو په سرته رسول کی د ستونزو سره مخامخ کیږی. که څه هم په دی حقیقت هر څوک پوهیږی او د مثال راوړلو اړتیا ورته نه لیدله کیږی، خو بیا هم د ښه وضاحت د پاره کولی شو و وایو: غوږونه د اوریدلو وظیفه په غاړه لری، کله چی کوم غږ یا خبره په سمه توګه وانه وریدلی شي، نو ژبه چی د خبرو وظیفه ورسپارل شویده، یا هیڅ نه وائی او یا شاید داسی څه و وایی چی د موضوع سره هیڅ تړاونه لری، او داسی نور ډیر مثالونه.

بشري ټولني هم د بشر د وجود غوندی د بیلو بیلو جوړښتونو د سره را یوځای کیدو نه جوړی شویدی، چی هر جوړښت ته د وجود د یوه غړی په څیر ځانګړی وظیفه ور سپارل شویده چی باید په خپل وخت سره یی په سمه توګه تر سره کړی. که چیری د ټولني د وجود هره برخه په خپله ور سپارل شوی و ظیفه کی سستي او ناغیري وکړي، ټولنه د ستونزو سره مخامخ کوی او نه شی کولی چی د خپل پرمختګ په لاره کی بریالی ګامونه پورته کړی.

اوسنی بشري ټولني د یوی قوی په زریعه چی دولت ورته وایی اداره کیږی. د نورو بشری ټولنو په څیر زمونږ افغانی ټولنه هم د همدی قوی (دولت) په زریعه خپلو ورځنیو کړو وړو ته انتظام ورکوی او د نورو ټولنو سره د اړیکو مسؤلیت هم د دولت په غاړه دی. زمونږ دولت د قانون له مخی له دری ګونو قواو نه جوړدی چی عبارت دی له مقننه قوی، اجرائیه قوی او قضایه قوی څخه. دادری واړه قواوی په شریکه د خپلو خلکو او وطنوالو په چوپړکی دی او د متقابله همکاریو له مخی د خپل ولس غوښتنو او پوښتنو ته ځواب وایی.

ددی دپاره چی دولت دټولنی ټولی چارې په سمه توګه سر ته ورسولی شي او په چارو کی ښه انتظام رامنځ ته شي نو یو لړ قوانین او اصول رامنځ ته کوی او داسی سیستم جوړوی چی د همدی اصولو او مقرراتو په تطبیق او مراعات کولو سره دا سیستم فعالیت کوی او د فعالیت نتیجه یی د ټولنی ارامي، سوکالي او په ستونزو بریالیتوب را وځي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

افغان ولس د څلويښتو کلونو نه زيات وخت کيږی چې د داسی يو دولت د لرلو نه محروم دی چې د هغه دری واړه قواوی يوه د بلی سره د يوه وجود دسيستم غوندی هم غږی او لازمه همکاری ولری. او دا له دی کبله دی چې په دی ټوله دوره کی افغان ولس د يوه داسی زعامت لرونکی نه دی پاتی شوی چې دا دری واړه قواوی لکه څنګه چې ضرورت دی په هماغه توګه يوه بلی ته ورنژدی کړی، يوه د بلی همکاره و ګرځوی او يوه بله تکميل کاندی، بلکی دا دری واړه قواوی زيار کاږی چې يوه د بلی نيمګړتياوی لاپسی لوی کړی، په کارونو کی يوه د بلی د برياليتوب مخه ونسی او يوه بلی ته څومره چې کولی شی نوری ستونزی او خنډونه و زيږوی.
حکومت يا اجرايه قوه چې د قانون تطبيقونکی قوه ده، تر ټولو د مخه د قانون ماتونکی او د قانون نه د سر غړونکو زورواکانو ساتونکی قوت ګرځيدلی دی.
پارلمان چې د قوانينو جوړونکی او په هغو باندی د نظارت لرلو صلاحيت ورسره دی، په هره برخه کی د بل هر چا نه د مخه هماغه قانون چې دوی خپله جوړ کړی دی د پښو لاندی کوی او سپکاوی ورته ورکوی.
قضايه قوه چې د اسلامی دولتونو په جوړښت کی دشرعی اصولو او د جرمونو په وړاندی دګناهکار او بيګناه تر منځ دتوپير او د اسلامی عدالت دتامين تر ټولو لوړه مرجع ده، د بل هرقوت نه د مخه دداسی سترو بی عدالتيو مرکز جوړ شويدی چې هيڅ بله مرجع ورسره سيالی نه شي کولی. هر ډول ناروا پکی روا او ټول روا پکی هره شيبه ناروا ثابتيږی.
که پوښتنه وشی چې ولی دا دری واړه دولتی قواوی او د دی قواو مسؤلين په دی ټولو دورو خصوصاً په افغان ولس باندی د امريکا له تيری او د دوی په لاس د (بُن) د بی سنجشه پريکړی له مخی د حامد کرزی په مشری د دولت جوړيدل او په شمالی ټلوالی باندی د امريکا د دولت بی دليله اتکا او باور کولو نه وروسته تر اوسه، په خپلو کړو او ورسپارل شوو وظيفو کی ناکام او بدنام هم دی ځواب به څه وی؟
شايد دی پوښتنی ته په زرګونه ځوابونه ورکړل شی او هر ځواب به د يوه ځانګړی د ليل له مخی تر يوه حده پوری سم هم وی، خوزه دی ناوړه حالت او د ټول دولتی سيستم د ناروغی تر ټولو لوی لامل په ټولو اخلاقي، سياسي، اقتصادی او هر ډول ټولنيزو چارو کی ( فســاد، فســاد، فســاد ..........او فســاد ) بولم او بس.
فساد دی چې د جنګ اوريی بل ساتلی دی، فساد دی چې بی اعتمادی يی را منځ ته کړيده، فساد دی چې ورور يی د ورور، پلار يی د زوی، قوم يی د قوم، ژبه يی د ژبی، سمت يی د سمت، مذهب يی د مذهب، وزير يی د وکيل، وال يی د قاضی، قوماندان يی د عسکر، او ملايی د آمي دښمن ګرځولی دی.
فساد دی چې د وطن اولاد يی د دښمن په صف کی ودرولی دی او د ټول وطن په بدن يی د اور لمبی بلی کړيدی، فساد دی چې هره ورځ زموږ وطنوال د خپلو عزيزانو په مرګ ژوبله د وير او ماتم په ټغر کينوی او بلاخره فساد دی چې د جګړی د سکه ورور په توګه په ټول هيواد کی، د هيواد په ټولو ادارو کی او د ادارو د ټولو منسوبينو تر منځ يی د قانون د نه تطبيق کيدو روحيه نه يواځی پياوړی کړيده، بلکی د هر چا په ذهن کی يی داسی زهر ور شندلی دی چې هر قانون ماتونکی ته ځان له نورو لوړ و بريښي او د قانونه په سر غړونه وياړی.
نو له دي کبله زه به دی باور يم ، تر څوچی افغان دولت په ټولو ادارو کی د فساد په کمولو او وره کولو بری و نه مومی تر هغی به هيڅکله ( که ټوله نړی هم ور سره ملګری شی) نه د جنګ په ختمولو بری و مومی، نه به د ولسونو او دولت تر منځ بی باوری له منځه يوړلی شی، نه به سوله او ثبات را منځ ته شی اونه به د قانون تطبيق بی له استثنا عملی بڼه و مومی. دا ځکه چې فساد د جنګ ورور او د قانون تر ټولو ستر دښمن دی. جون/۱۶/۲۰۱۷

پای